مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۶/۱۱/۰۷

یو شعر ووایه او مشاعره وګټه

د استاذ قمر جلالوي همعصري شاعري وحیده نسیم چې هغه یې د غربت له املې یو څه له ځانه ټیټ ګانې، په طنزیه انداز وویل: قمره! شاعر خو به دې هغه مهال ومنم چې په مشاعري کې یو شعر ووایي او محفل د ځان کړي!

استاذ یې چیلنج ومانه، څو ورځې بعد بیا مشاعره وشوه او اتفاقاً دواړه ور وبلل شوه، وحیده نسیم شاته څوکیو کې ناسته وه. د استاذ نوبت راغی، چې څنګه مایک ته ورنیږدې شو، نو ویې ویل:
ښاغلو او اغلو! نن د چا په چیلنج یوازې یو شعر وایم، فیصله یې په تاسې ده! له همدې سره استاذ لومړی مسره وویله:

پچھتا رہا ہوں نبض دکھا کر حکیم کو
ژباړه:
افسوس کوم چې نبض مې حکیم/ ډاکټر ته وربښکاره کړ

له هر لورې د واه واه غږونه شول، استاذ مسره بیا تکرار کړه، له محفله غږونه پورته شول، چې وړاندې څه وشول استاذه؟ استاذ بیت پوره کړ، چې:

پچھتا رہا ہوں نبض دکھا کر حکیم کو
نسخے میں لکھ دیا ہے وحیده نسیم کو
ژباړه:
افسوس کوم چې نبض مې حکیم/ ډاکټر ته وربښکاره کړ
په نسخه کې یې وحیده نسیم راته لیکلې ده

له همدې سره په مشاعري کې څو دقیقې چکچې او تږې خنداګانې شوې. چې شور یو څه کم شو نو د خلکو نظرونه د وحیده نسیم په لورې واوښتل خو هغه خدای خبر کله له محفله وتلې وه.

ژباړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ